په رمضان المبارك ليكلې شوې يو منفرد كتاب

شهر رمضان الذي انزل فيه القرآن



# تحفه دَ رمضان

Ketabton.com

## (منظوم)



مولانا احمدعلي مرداني

یونیورستي روډ خوره بانډه مردان

ناشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رمضان المبارك ليکلي شوي يو منفرد کتاب

# تحفه دَ رمضان

# (منظوم)

شاعر

مولانا احمدعلی مردانی

یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

03129818511,03208086524

خورونکے

اسلامی ادبی تولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحيم

صلى الله على النبى الاقى

--------------------------------------------------------

بسم الله سره دَ كتاب آغاز
دَ الله په نوم آغاز مي دَ كتاب دے
دا عمل هم دَ سكون او ثواب دے
بركتونه په كښې پټ دي جهان دى
صالحان په دي خبره ګواهان دى
دَ قرآن آغاز له دي نه په جهان دے
چې رڼا ورسره زمكه او اسمان دے
خوږ نبى ﷺ دا طريقه ده خوښه كړے
صحابى دا طريقه ده خوښه كړے
صالحانو دا وئيلے په اول كښې
عالمانو دالوستلے هر محفل كښې
ښكلي چې پټ په دي ښته بركتونه
ورسره هم راوري رحمتونه

--------------------------------------------------------

دَ رسول الله ﷺ ذكر مبارك

دَ الله دَ نوم نه پس نوم دَ نبى ﷺ دے
چې ئي ستوري دَ جهان هر صحابى دے
دين كامل ئي دے په خپله هم كامله
اے دَ پاك نبى ﷺ منونكيه قائله
په سيرت سره كامله پاك حضور ﷺ دے

هر صفت سره كامله پاك حضور ﷺ دے
هر صفت ئې حسين ګل ددي جهان دے
په هر يو اَمر ددين زما ايمان دے
دا قرآن ئې دے اخلاق زما ملګرو!
حق بيان ئې دے اخلاق اعلا ملګرو!
حديثونه ئې لعلونه دَ جهان دي
معطر په حديثونو عالمان دي
وريسې مقام دَ ټولو صحابه رض دے
قدردان هر يو دَ ژوند په هر حصه دے

---

## دَ صحابه رض ذكر

شاګردان ئې صحابه رض دي ښكلي ښكلي
عاشقان ئې صحابه رض دي ښكلي ښكلي
هر يو ستوري دَ اسلام دَ شريعت دے
هر يو كړے دَ اسلام پوره خدمت دے
هر يو ستوري دَ اسلام پوره كامله
بهترين په هر مقام پوره كامله
دوى اسلام ټول شريعت مونږ ته ښودلي
هر عمل ئې دَ عزت مونږ ته ښودلي
كه سيرت دَ محمد خير الانام ﷺ دے
صحابه رض راته ښودلے ټول تمام دے
هر ادا دَ دوى رڼا ده دلته
هر ادا دَ دوى اعلا ده دلته

کهٔ قرآن دے کهٔ دَ حق څه بل پیغام دے
صحابه رض راته ښودلي دین تمام دے
کلمه، مونځونه، حج او که روژه ده
صحابه راته ښودلي هر حصه ده
ټول لازم دداسي خلقو احترام دے
چي قائم ورسره دلته کښي اسلام دے
یا مقام دَ تابعینو پس له دُوی نه
احترام دَ تابعینو پس له دُوی نه

---

## د تابعینو ذکر

تابعین دی او کهٔ تبع تابعین دی
په دُنیا کښي ښکلی خلق بهترین دی
تابعین دَ صحابه رض ټول شاګردان دی
دَ خپل وخت دَ زماني ټول امامان دی
صحابه رض ئي استاذان دَ شریعت وو
بهترین دا عالمان په هر صفت وو
هر قدم ئي وو په سمه دَ جهان
ښهٔ په نیغه لاره دلته وو روان
ښهٔ صفا صفا ددُوی هره وینا ده
په وینا کښي ئي ددین حُسن ښکلا ده
ټول لازم دداسي خلقو احترام دے
چي باقی ورسره دغه دین تمام دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ تبع تابعینو ذکر

تابعینو پسې تبع تابعین دی
شاګردان دَ تابعینو بهترین دی
هریو ښکلي دې په دین په شریعت
بیان کړې راته ټول دوی حقیقت
دروغژن نه دی ریښتوني په جهان دی
پرهیزګاره ، ښه دینداره عالمان دی
هریو حکم دَ اسلام دُوی نقل کړې
هریو حکم ښۀ تمام دُوی نقل کړې
هریو دُوی کښې دَ اسلام مضبوط بُنیاد
ښۀ اعلا پوره تمام مضبوط بُنیاد
دا هر څه قرآن اسلام له دُوی ثابت دې
دَ تحریر مفهوم تمام له دُوی ثابت دې
راته دُوی ښودلي ټول اُصول د دین دی
بنیادونه دَ اسلام ښه بهترین دی
نۀ دی نۀ دی دا اُصول وروره! عبث
نۀ دی نۀ دی څه فضول وروره! عبث

.................................................................................

## دَ اسلام څلور اهم اُصول

ټول څلور دی بُنیادونه دَ اسلام
تقسیم شوی ټول څیزونه دَ اسلام
دَ اسلام حکم ثابت یا له قرآن وی
یا ثابت له پاك حضور ﷺ نه په جهان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا اجماع سره به حق فیصله وي
چې راپېښه راته کله مسئله وي
په اجماع کښې دا حکم موجود نه وي
که قیاس نه وي نو دلته به نور څه وي
دا څلور واړه اُصول ښه معتبر دي
عالمان له هریو حکم نه خبر دي
پرېښودل دحق اُصولو روا نه دي
نور دروغ دي هر طرف ته، ریښتیا نه وي
هریو حکم به ثابت وي تل له دي نه
ځان خبر کړه دَ اسلام هر فیصلي نه
مختصر وایم څلور دي دلیلونه
په قرآن حدیث اجماع کړه قیاسونه
دَ شعار زما بُنیاد دغه اُصول دي
نور چې څومره دلیلونه دي فضول دي

..................................................................

## تمهید دَ اصل کتاب

احکامات که دَ مونځونو دَ روژې دي
معتبر دَ کائنات په هر حصي دي
په ارکان باندي ددین پوره یادیږي
کله دلته کښې چې دا لیکلې کیږي
بیانومه احکامات څه دَ رمضان
ځان خبر دي کړي له دي نه مسلمان
دا رمضان ده مجموعه دَ عباداتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــجـــمـــوعـــــه دَ رحـــمـتـــونـــو انـــوارا تـــو
دَ رمــــضـــــــــان روژه روژه ده فــــــرضِ عيـــــن
دا دَ ديـــن كـــامـــل حـــصـــــه ده فـــرضِ عيـــن

................................................................................

## روژه په چا فرض ده؟

روژه فــــرض ده پــــــه هـــغــــــهٔ پــــه جهـــــان
ورســـــره چـــي وى دولـــت نـــور دَ ايـــمـــــان
پــــه كـــافـــر او پـــه مـنـكـــر دَ جهـــان نيشتــه
ورســـره څـــكــــه دولـــت دَ ايـــمـــان نيشتـــه
پـــه بـــالـــغ بـــانـــدي دا فـــرض پـــه هـــر خـــوا ده
پـــه خبـــر تـــريـــنـــه دُنيـــا كښـــي دا دُنيـــا ده
صـــحـــت بـــه روژه نيـــوى دا ســـاعـــت
ســخـــت مـــريـض تـــه دَ قـــضـــا شتـــه اجـــازت
دَ قـــضـــا اجـــازت شتـــه دے مســـافـــر تـــه
دلتـــه دا اجـــازت شتـــه دغـــي بشـــر تـــه
كـــهٔ ئـــي نـــهٔ نيـــوى ســـفـــر كښـــي يـــو انســـان
اجـــازت ورتـــه ددي شتـــه پـــه جهـــان
روژه اُونيســـه قـــضـــا قـــضـــا كـــړه چـــي مـقيـم شـــے
حـــكـــم يـــا دَ رب ادا كـــړه چـــي مـــقيـم شـــے
اجـــازت شتـــه شـــريـــعـــت كښـــي حـــامـلـــه تـــه
بـــل دَ پـــيـــو وركـــونـــكـــي زنـــانـــه تـــه
چـــي روژه كښـــي د رمـــضـــان اُوكـــړي تـــاخيـــر
اجـــازت ورلـــه وركـــړے رب قـــديـــر

بیا به دُوی ددې روژو تولو قضا کړی
کۀ دَ پاك الله دَ حکم اقتدا کړی
یو شان حکم دے غریب لره مالدار له
پرهیزګار له په دنیا کښې ، ګناه ګار له
نیشته نیشته دَ غریب مالدار خبره
حقه توله دَ پروردیګار خبره

................................................................................

## دَ روژې تعریف ( حقیقت)

ورته فرضِ عین وئیلي په جهان شی
کله شمیر چې دَ اسلام پنځه ارکان شی
فرضیت ئې دے ثابت له دې قرآنه
ځان خبر ساته پوره اے مسلمانه!
له سحر نه ترماښامه نۀ ځۀ ځکل دی
نه سحر نه دَ ماښام پوری خوړل دی
ورسره هم دَ روژې چې اراده وی
دا به هله په دنیا جوړه روژه وی
خواهشاتو نه دَ نفس به هم بچ کیږی
هله هله به روژه ترینه جوړیږی
فرضِ عین دَ رمضان تولې روژې دی
مسئله ده ځنګ چې نورې مسئلې دی
ځه نه ځه لری حکمت په دې جهان
هریو حکم دَ مولا غنی سبحان
ځه نه ځه په کښې حکمت په هر قدم شته

دغه حکم په عرب هم په عجم شته
ډېري زياتي دي فائدي دَ رمضان
هر بشر ورسره وي په اطمينان

..................................................................

روژه په چا فرض ده؟

فرض دَ رمضان روژه
ده په مسلمان روژه
هغه چي بالغ شولو
ده په هغي ځوان روژه
نر يا زنانه کة وي
دا په هر انسان روژه
فرق په کښي نيشته څه
ده په غريب ، خان روژه
حکم دے قطعي دَ رب
اَمر دَ رحمان روژه
ذکر ئي حديث کښي شته
ياده په قرآن روژه
مياشت چي راښکاره شي بيا
نيسي ټول جهان روژه
نة ده په ماشوم فرض
دغه عاليشان روژه
نة ده په مجنون فرض
عقل چي شي وران روژه

تا ته که دا ګرانه ده
ما ته ده آسان روژه
دويم رکن دَ دين زمونږ
شته دے په ارکان روژه
ذکر اطمينان پوره
داسي ده بيان روژه
غواړي پاك سبحان دلته
نۀ غواړي شيطان روژه
ما الحمد بيان کړله
شته په هر مکان روژه

..........................................................................

دَ رمضان روژي په چا فرض دي؟.................... نظم

ډير دي برکتونه دَ رمضان دَ روژي
دي کۀ په تا فرض خامخا به دا نيسي
دغه په بالغه مسلمان نيول لازم دی
دغه په عاقله هر انسان نيول لازم دی
ډهال دي تا دَ پاره ځان له اُور کۀ بچ کوي
دي کۀ په تا فرض خامخا به دا نيسي
تۀ کۀ ئي مقيم نو روژه اُونيسه اے وروره !
بچ کړه دَ محشر په ورځ خپل ځان له هر پيغوره
اُوکړه په کښي ډيري رکوع ګاني سجدي
دي کۀ په تا فرض خامخا به دا نيسي
رب به ئي بدله ورکوی حشر کښي په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهٔ اختياره له دغي لاړي نه بدله
اُونيسه روژي تر څو چي دلته ئي ژوندي
دي كهٔ په تا فرض خامخا به دا نيسي
نيشته كهٔ څه عذر روژه اُونيسه اے وروره !
ځان لره رڼا كړه هغه كنده تكه توره
اُوكړه مقابله د ژوند دَ هريوي خطري
دي كهٔ په تا فرض خامخا به دا نيسي
دا په بيماري كښي پريښودل جائز روا دي
ټول حكمونه ما احمدليكلي ښهٔ صفا دي
عمل په دي اُوكړه ستا نصيب به شي مزي
دي كهٔ په تا فرض خامخا به دا نيسي

------------------------------------------------------------------------

## روژه زر ماتوه .... (نظم)

كهٔ تهٔ عاقله ئي هوښياره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
داسي حديث دَ مصطفىٰ مونږ ته سبق ښودلے
داسي حضرت رسول الله ﷺ مونږ ته سبق ښودلے
اے مسلمانانه ! اے دينداره ! روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
خوښ دَ رسول ﷺ دے دا عمل په كښي هيڅ شك مهٔ كوه
مقبول مقبول دے دا عمل په كښي هيڅ شك مهٔ كوه
دَ خپل نبي ﷺ اے تابعداره ! روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیر په کښې پټ ددې اُمت دَ پاره دلته کښې دے
خیر په کښې پټ دَ آخرت دَپاره دلته کښې دے
چې وي روټې کله تیاره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
خوښ د الله دے دا عمل دَ روژه داره سړي
خوښ دَ الله دے دا عمل دَ ښۀ دینداره سړي
کۀ دَ رحمت ئې طلبګاره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
اغیار چې خومره دي افطار کښې به تاخیر دُوی کوی
اغیار چې خومره دي ښۀ کار کښې به تاخیر دُوی کوی
لرے جدا شه له اغیاره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
بهتر دي دا چې په کهجوره روژه ماتې اُوشي
عمل اعلا چې په کهجوره روژه ماتې اُوشي
سمه ده دغه نیغه لاره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
دَ وخت نه مخکښې درته نۀ وایم هوښیار سړیه !
په صحیح وخت خپل روژه ماتې کړه دیندار سړیه !
اُوسه پوره پوره بیداره روژه زر ماتوه
غوره بهتر دي ستا دَ پاره روژه زر ماتوه
ښه طریقه ده دَ رسول ﷺ دَ صالحانو ټولو
احمده ! لار دا طریقه دَ امامانو ټولو
څان کړه خبر له حق ګفتاره روژه زر ماتوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـــوره بهتـــر دی ستـــا دَ پـــاره روژه زر مـــاتـــوه

----

### دَ روژه ماتي وخت کښي دُعا قبليږي

دَ روژه مـــاتـــی وخـــت چـــي راشـــی نـــو دُعـــا قبـلـيـــږي
ښـــه پـــه اخـلاص ســره دُعـــا کـوه ، هـــر خوا قبـلـيـــږي
چـي لـــه حرامــو نـــه ئـي ځـان وی ښـــهٔ ســاتلـے دلتـــه
هـلـــه دَ خـلـقــو دُعـــاگــانـي پـــه دُنيـــا قبـلـيـــږي
ښـــه پـــه اخـلاص ســره دُعـا کـوی چـي خپـل پـردی تـــه
هـــغـــه دُعـــا دَ هـــر بشـــر پـــه ابتـــدا قبـلـيـــږي
دَ روژه دار ســـــــرِي دَ پـــــــاره ده عـــــطـــــــا دَ ربّ
هـــريــو دُعـــا دَ کـــائـنـات ئـي پـــه ريښتيـــا قبـلـيـــږي
دَ روژه دار دَ خـــوشـــحـــالـــي يـــو ذريـــعـــه دلتـــه ده
روژه چـــي اُونيســـی ،دُعـــا ئـــي خـــامـخـــا قبـلـيـــږي
ســوال بـــه دَ ښـــهٔ کـوی ، ســوالــونـــه دَ گـنـاه نـــهٔ کـوی
ښـکـلـي ســوالـونـــه دُعـــاگـــانـي دَ هـــرچـــا قبـلـيـــږي
دَ هـــر مـــاشـــوم دَ هـــريـــو ځـــوان چـــي روژه داروی کـلـــه
پتـهـــه ښـکـــاره هـــريـــو دهٔ ســـوال الـتـجـــا قبـلـيـــږي
کـــهٔ نـــارينـــه يـــا زنـــانـــه وی ربّ نـــه ســـوال دي کـوی
ســـوال هـــميشـــه پـــه عـــاجـزی ســره صـفـــا قبـلـيـــږي
ســـوال چـــي پـــه جـمـع وی نـــو نُــورٌ عـلـیٰ نـورٌ شـی هـغـه
داســـي ســـوالـونـــه حـقـيـقـت کښـــي تـول رســـا قبـلـيـــږي
چـــي مـقـتـديـــانـو تـــه دُعـــا کـــوی دَ مـونـځ نـــه پـــس
هـــغـــه دُعـــا پـــه کـــائـنـــات دَ هـــر مُلا قبـلـيـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دُعا به هله شی مردوده چي اللّه غواړي نه
غواړي چي کله پاك اللّه سوال د دُنيا قبليږي
چي په اخلاص سره دَ خلقو دُعاګاني نهٔ وي
د داسي خلقو دُعاګاني کله بيا قبليږي
چي په حراموئي پاللي خپل بدن دلته وي
نهٔ دا دُعا قبليږي ، نهٔ ددهٔ ژړا قبليږي
چي دَ اغيارو در ته هروخت وي ولاړ دلته کښي
راته وواېه څنګ دُعا دَبي وفا قبليږي
وفا دي شرط قبوليت له دَ دُعا دَ پاره
په دغي شرط سره دُعا دَ اوليا قبليږي
ښکلي انداز ښه طريقه ده دَ غوښتلو پکار
احمده! بيا دُعا په جمع ، هم تنها قبليږي

.....................................................................

روژه په چا فرض ؟ ..........چا ته دَ نهٔ نيولو اجازت؟

په هر مالدار او په غريب باندي يو شان فرض دي
ټولي روژي په مسلمان دَ رمضان فرض دي
عذر چي نهٔ لري دُنيا کښي يو انسان دلته کښي
روژي به نيسي هغه ټولي دَ رمضان دلته کښي
مريض ته شته دے اجازت کهٔ پريښودل ئي غواړي
هغه ئي دلته کهٔ په بل وخت کښي نيول ئي غواړي
بل اجازت شته مسافر ته چي روژه نهٔ نيوی
قضا ئي شته دے چي روژه يو حامله نهٔ نيوی
پي چي بچی له ورکوی ورله رخصت راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضا به نیسی ورله اُوس کۀ اجازت راغلے
فرض روژه دَ رمضان په هر بالغ سړی ده
په زنانه باندي هم فرض په بابا قوی ده
په ماشومانو باندي فرض نۀ دی دغه روژے
په غلامانو باندي فرض نۀ دی دغه روژے
نۀ په مجنون باندي دا فرض ده هوښیار سړیه
حق حقیقت بیانومه اے دیندار سړیه
روژه به نه نیوی نفاس کښي زنانه دلته کښي
پوره خبر له دغي حکم زمانه دلته کښي
دَ حیض بیماري زنانه دي هم روژي نۀ نیوی
انسان بي له عذره دلته بهاني نۀ نیوی
بس بعضي خلقو ته اسلام دا اجازت ورکوی
ورله دَ نۀ نیولے دلته کښي رخصت ورکوی
نور په هرچا باندي لازم روژه نیول راغلی
احمده! دغه ټول احکام مونږ له منل راغلی

.................................................................................

## مفسدات دَ روژي

انسانه! شته دے څۀ څیزونه چي روژه ماتوی
دَ روژي سړی روژه په هر حصه ماتوی
څنګ چي دی منع دَ څه څکل دَ هر عاقل دَ پاره
خوراك هر ځائي دغه روژه په اراده ماتوی
منع دی پوزه کښي په غوږ کښي دوائی اچوَل
ورسره خُله کښي دوائی روژه ښکاره ماتوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوائی هر هغه چې ګیډې ته اثر بوځی
روژه هر ځائې کښې دوائی خوړه، ترخه ماتوی
په اراده سره جوړول تل تقاضه دَ غسل
روژه هر خواته په دُنیا دَ هر بنده ماتوی
اُلټې کول دَ ډکې خلې په ژوند روژه ختموی
نفاس او حیض دغه روژه دَ زنانه ماتوی
ښهٔ دی ښکاره دغه احکام دَ شریعت احمده !
چیلم سیګریټ نسوار روژه هره نشه ماتوی

................................................................................

## روژه په څهٔ ماتیږی؟

په سګریټ او په نسوار روژه ماتیږی
هر څوك وی چې روژه دار روژه ماتیږی
په خطا سره چې تیرې ئې اُوبه
هیر ئې نه وی خبردار! روژه ماتیږی
په خوراك باندې هرچاته ده معلومه
قصداً څکلو سره یار روژه ماتیږی
هر هغه عمل دَ غُسل دَ وجوب
ارادې سره هر بار روژه ماتیږی
چې معدې ته اثر لاړ دَ دوائې شی
په دې کار دَ هر بیمار روژه ماتیږی
حائضه یا دَ نفاس ښځه بیماره
ددې ښځو شه په جار روژه ماتیږی
پان چیلم سره هر خواته هر ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر طـرف تـه پـه هـر دار روژه مـاتيـږي

..............................................................

## مكروهات دَ روژي

هـريـو گـنـاه خـراب عـمـل روژه مـكـروه جـوړوي
دَ شـرارت كـارونـه تـل روژه مـكـروه جـوړوي
څـنـگ چـي دروغـو كـښـي نـقـصـان شـتـه دَ روژي دَ پـاره
دَ بـل غيبـت، بـل تـه كـنـځـل روژه مـكـروه جـوړوي
ورتـه چـي نـۀ وي ضـرورت هـلـه انـسـان دَ پـاره
دَ خـلـي غـابـونـه اُويـاسـل روژه مـكـروه جـوړوي
ډير شتـه دے داسي چي تـوكـانـي كـړي راجمع خُله كښي
هـغـه تـوكـانـي تـيـرول روژه مـكـروه جـوړوي
څـنـگ چي مـكـروه دي دَ مـنـجـن او دَ تـوت پيست استعمال
دنـداسـه هـرچـالـه مـږل روژه مـكـروه جـوړوي
چيـنـگـم پـه خُـلـه كـښـي يا څـۀ بـل څيـز بار بار جـوول
ځـان بيـقـراره جـوړول روژه مـكـروه جـوړوي
هـم غـراره كـول انـسـان لـه پـه اودس غـسـل كـښـي
پـه اُوبـو پـوزه تـرخـول روژه مـكـروه جـوړوي
هـغـه انـسـان چـي ضـرورت لـري دَ غـسـل پـوره
سستـي پـه غـسـل كـښـي كـول روژه مـكـروه جـوړوي
پـه تـن كـمـزوري چـي وي دلـتـه هـغـي تـن دَ پـاره
بـل لـره ويـنـه وركـول روژه مـكـروه جـوړوي
سُـرخـي هـغـه چـي ئـي اثـر ورځـي دنـنـه خـلـي تـه
داسـي سُـرخـي پـوري كـول روژه مـكـروه جـوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ چې جهګړه ده روژه کښې هر بشر له منع
په بل بهتان غلط تړل روژه مکروه جوړوي
منم چې منع نهٔ وي غسل په تالاب کښې يَو له
خو په کښې زيات ايساريدل روژه مکروه جوړوي
حق دَ احمد على وينا پسې خبري کوي
ځکه غصه غصه کيدل روژه مکروه جوړوي

.................................................................

## مباحات دَ روژې

روژه په هيره دَ چا نهٔ ماتيږي
دَ علماء ده فتوىٰ نهٔ ماتيږي
چې څکاك خوراك دلته په هيره اُوکړي
خبره ده له پخوا نهٔ ماتيږي
څنګ چې جائز وينه ويستل دي په کښې
مسواك سره په دُنيا نهٔ ماتيږي
اُلټي پخپله چې ئې تيري نه شي
ياده ساته ده فتوىٰ نهٔ ماتيږي
وينڅل دَ سر په کښې دَ غسل عمل
روژه په دي او په دا نهٔ ماتيږي
تيل په خپل سر يا په بدن دي روا
حکم دے حکم روا نهٔ ماتيږي
انجکشن هغه چې بيمار لګوي
روژه په داسې دوا نهٔ ماتيږي
نهٔ دَ مذي دَ احتلام نقصان شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده ساته دا وینا نهٔ ماتیږي
په غابښ ویستلو دَ انسان دا روژه
حکم ښکاره دے صفا نهٔ ماتیږي
غوږ کښې اُوبه چې انسان لاړې شي
روژه په دغې اشنا ! نهٔ ماتیږي
بیمار چې سترګو کښې څه څاڅکي کوی
فتوىٰ ښکاره دَ مُلا نه ماتیږي
دا دي احکام دَ شریعت احمده !
په دي روژه دلته ستا نهٔ ماتیږي

.................................................................

دویمه برخه ............دَ رمضان المبارك عظمت (نظمونه)

.................................................................

راغے رمضان رونو ! راغے رمضان..................(نظم 1)

جوړ دَ رحمتونو دے هر طرف باران
راغے رمضان رونو ! راغے رمضان
میاشت ښهٔ مقدسه ده دا تاته معلومه ده
میاشت ښهٔ مقدسه ده هر چاته معلومه ده
څکه دَ نزول میاشت ده ښکلي دَ قرآن
راغے رمضان رونو ! راغے رمضان
لویه ښهٔ دا لویه ده ، ډیره عالیشانه ده
تل په شریعت کښې دا ډیره قدردانه ده
تل ئي احترام کوی هر خوا مسلمان
راغے رمضان رونو ! راغے رمضان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه په کښي دَ قدر ده ډيرئي ثوابونه دي
ډير په فضيلت کښي ئي نقل حديثونه دي
چانه چي دا پاتي شوه ديرئي دے نقصان
راغے رمضان رونړو ! راغے رمضان

نفل په ثواب کښي ئي فرضو ته نژدي کړل
تله په حساب کښي ئي فرضو ته نژدي کړل
چا چي عبث تيره کړه بيا به کړي ارمان
راغے رمضان رونړو ! راغے رمضان

شته دَ اعتکاف سنت دَ آخر دَ لس ورځو
شته دغه عمل اُوچت دَ آخر دَ لس ورځو
تل کوی په شوق سره هر خوا صالحان
راغے رمضان رونړو ! راغے رمضان

بندي دروازي شولي بيا دَ جهنم پوره
بندي دروازي شولي د هغي تورتم پوره
ښه اعلا توښه دلته ده دَ بل جهان
راغے رمضان رونړو ! راغے رمضان

مياشت دَ محبت دغه ، مه کوه کينه حسد
مياشت دَ برکت دغه ، مه کوه کينه حسد
حق دے دَ احمد علي تول دغه بيان
راغے رمضان رونړو ! راغے رمضان

..........................................................................

***************************

***************************

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره..................( نظم 2 )

میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
نه ده دروغ له ، نه غیبت دَ پاره
په کښې انسانه! عبادت به کوُو
اے مسلمانه! تلاوت به کوُو
ده وروړولي له محبت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
پریږدي جهګړي ، دَ جهګړو نه ده
میاشت دَ عبث فضول خبرو نه ده
تیاري اُوکړه آخرت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
دَ قدر شپه په دي کښې پټه
لویه توښه په دي کښې پټه
نه ده انسانه! دَ غفلت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
ځان کړه تیار هم اعتکاف ته کینه
اعلا دي کار هم اعتکاف ته کینه
کینه دَ پاك نبی ﷺ سنت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
ښهٔ اهتمام دَ تراویح په کښې کړه
قدر تمام دَ تراویح په کښې کړه
وقف کړه ځان دغي دولت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه کړه کنځل، بل ته کنځل ښه نه دی
دَ بل رټل دغه رټل ښه نه دی
نه ده دا میاشت دَ شیطانت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره
احمد په جار دا نصیحت بل ته کړی
احمد بار بار دا نصیحت بل ته کړی
نه ده دا میاشت دَ شرارت دَ پاره
میاشت دَ رمضان ده عبادت دَ پاره

..............................................................................

میاشت دَ رمضان ده.................................(نظم3)

میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
سحر او ماښام په کښې ډیر ډیر تلاوتونه کړه
خوږ نبی ﷺ وئیلی دی ښه لویه ده عظیمه ده
هر کتاب لیکلی دی ښه لویه ده عظیمه ده
اُوس نه ځان له جمع په کښې ډیر ډیر ثوابونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
نفل ئې دَ فرضو سره سَم دی دَ مولا په دَر
دا ده یقینی خبره ځان کړه ښه پوره خبر
هم په پټه تهجد کوه نفلونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
فرض ئې ئې اویا ته په ثواب کښې رسیدلی دی
داسې علماء نه ما هر خواته اوریدلی دی
ښه په پابندی سره په وخت فرض مونځونه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
بندي دروازي دَ جهنم شی دَ عذاب په کښي
بند شی شیطانان په کښي سرکشته ټول خراب په کښي
اُوس په آزادي سره هرخواته ښهٔ کارونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
هریو دروازه په کښي کولاؤوده دَ جنت پوره
هریو دروازه په کښي کولاوُوده دَ رحمت پوره
ښه پوره آباد په ښهٔ اعمالونو جماتونه کړه
مینځ دَ مغفرت حصه ئي ، سر کښي ئي رحمت پوره
اُور دَ جهنم نه خلاصوی مونږ هر ساعت پوره
توبه استغفار کوه دَ خیر په کښي سوالونه کړه
ښه پوره په شوق سره شریك په تراؤو کښي شه
ښه پوره په شوق سره شریك په سجدو کښي شه
ښه کارونو کښي دَ ځان سره شریك خپل ورونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
پاسه پیشمني له دَ رمضان چي تهٔ روژه نیوے
ټول دغه برکت دے په جهان چي تهٔ روژه نیوے
دي ثواب دَ پاره دَ سحر قربان خوبونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه
شپه په کښي دَ قدر شته احمده ! قیمتی غوره
ده له زرو میاشتو دیرزیاته صفتی غوره
ځان له دا وختونه دَ قبر خوشبو ګلونه کړه
میاشت دَ رمضان ده قیمتی دَ ژوند وختونه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه..........( نظم4)

دَ غفلت خوبونه پریږده اے غافله مسلمانه!
نوراني ده ټوله ټوله حقیقت درته زهٔ وایم
خوشبوئي ده ټوله ټوله حقیقت درته زهٔ وایم
تپوس اُوکړه له هر چانه ،تپوس اُوکړه علماء نه
بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه
هر طرف به خوشبوئي وي برکته هغه ده ټوله
په آخر په هر قدم خوشحالي هغه ده ټوله
شه ده لویه مرتبه کښي بره بره له آسمانه
بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه
ښهٔ له اُوس نه شه تیار رحمتونه کهٔ تهٔ غواړے
په محشر کښي ثوابونه جنتونه کهٔ تهٔ غواړے
ګرانه ګرانه په ما ګرانه! ګرانه ګرانه ځوانه ځوانه!
بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه
ډیر وو داسي چي نن نیشته داژوندون داسي تیریږي
هر ساعت په منډه منډه نن پرون داسي تیریږي
ژوند په منډه دغه ستانه ،ژوند په منډه دے زمانه
بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه
تیارے درله پکار دے ښهٔ اعلا په هر قدم
هوښیاران به تیاري کړي هر طرف ته په عالَم
جُدا نه شے له جماعت نه، جُدا نه شے له قرانه
بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه
غواړم زهٔ چي تا خبر کړم ،زما وروره! لږ بیدار شه

پرهیزګاره شه دینداره شه مل ملګري دَ هوښيار شه

دَ احمد خبره سمه بهترینه له پخوانه

بیا ده میاشت دَ رمضان اے ملګرو راروانه

..........................................................................

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده................(نظم 5)

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده

هم شیطانت غلط کارونه پریږده

په کښې په شوق سره قرآن ووایه

موقعه کهٔ بیا مومې اذان ووایه

عبث ځائي ناسته، محفلونه پریږده

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده

ذکر اذکار دَ پاره بیا موقع ده

دَ هر هوښیار دَ پاره بیا موقع ده

غلط فکرونه او سوچونه پریږده

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده

دَ استغفار وظیفه زر شوروکړه

ډیره دَ کار وظیفه زر شوروکړه

دروغ، چغلی هم غیبتونه پریږده

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده

شپهٔ پابندي سره مونځونه کوه

هم تهجد کوه نفلونه کوه

دَ غافلانو ټول خویونه پریږده

میاشت دَ رمضان ده ګناهونه پریږده


(c) ketabton.com: The Digital Library

د وروږي خيال اوساته ګرانه وروره!
حُسن وجمال اُوساته ګرانه وروره!
د بغاوت ټول عملونه پرېږده
مياشت د رمضان ده ګناهونه پرېږده
هر يو شاعر ته به په جار وايمه
حق زهٔ احمد ورته بار بار وايمه
شاعره! نور غلط شعرونه پرېږده
مياشت د رمضان ده ګناهونه پرېږده

..........................................................................

يو ځلي بيا شولو رمضان شورو......................(نظم 6)

يو ځلي بيا شولو رمضان شورو
ښکلي ښهٔ وخت ددي جهان شورو
د رحمتونو بيا باران شورو
وخت شو د ګټي د انسان شورو
يو ځلي بيا شولو رمضان شورو
رحمت رحمت سره ئي ابتداده
اعلا صفت ئي انتهاده
حسين ښکلي شولو دوران شورو
يو ځلي بيا شولو رمضان شورو
د مغفرت حصه په کښي ښهٔ اعلا
د هر عزت حصه په کښي ښهٔ اعلا
معافي شوه عام په هر مکان شورو
يو ځلي بيا شولو رمضان شورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ جهـنـم نـه دَ خـلاصـي ذريـعـه

دَ هـر يـو غـم نـه دَ خـلاصـي ذريـعـه

پـه شيـطـانـانـو شـو خـفـگـان شـورو

يـو ځـلـي بيـا شـولـو رمـضـان شـورو

پـه كښـي ښـۀ ډيـر تـلاوتـونـه اُوكـړه

پـه هـر قـدم اعـلا كـارونـه اُوكـړه

شـولـو كـرم پـه مسـلـمـان شـورو

يـو ځـلـي بيـا شـولـو رمـضـان شـورو

واړه اولـوئـي عبـادتـونـه كـوى

روژي نيسـى اعتـكـافـونـه كـوى

وخـت دَ سـكـون شـو اطـمـيـنـان شـورو

يـو ځـلـي بيـا شـولـو رمـضـان شـورو

احـمـده! ټـول شـو شيـطـانـان بـنـديـوان

سـركشتـه ټـول پـه هـر مـكـان بـنـديـوان

عـمـل ښـۀ درود شـو دميـزان شـورو

يـو ځـلـي بيـا شـولـو رمـضـان شـورو

...............................................................................

چي دَ رمضان شي ابتدا..............................(نظم 7)

چـي دَ رمـضـان شـي ابتـدا مـونـږه روژے بـه نيسـو

غـواړو دَ رب كـۀ مـونـږ رضـا مـونـږه روژے بـه نيسـو

كـۀ دي غـريـب كـۀ دي مـالـداره دَ جهـان دلتـه كښـي

ښـځـه او نـر، تـكـړه بـابـا او هـر يـو ځـوان دلتـه كښـي

روژه بـه نيسـى هـر طـرف تـه مسـلـمـان دلتـه كښـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دَ ایمان لرو دعویٰ مونږه روژے به نیسو
غواړو دَ ربّ کهٔ مونږ رضا مونږه روژے به نیسو
دا فرض کړی دی مولا په هر بشر دلته کښي
دا فرض کړی دی مولا په لر او بر دلته کښي
احکام راوړی دا ټول خوږ پیغمبر ﷺ دلته کښي
کهٔ وی رمضان چرته صبا مونږه روژے به نیسو
غواړو دَ ربّ کهٔ مونږ رضا مونږه روژے به نیسو
هر مسافر ته اجازت شته چي روژه نهٔ نیوی
ورته لږ وخت له سهولت شته چي روژه نهٔ نیوی
بیمار ته هم دا اجازت شته چي روژه نهٔ نیوی
نوریُو چي څومره په دُنیا مونږه روژے به نیسو
غواړو دَ ربّ کهٔ مونږ رضا مونږه روژے به نیسو
دا په دروغو ناروا رانه خرابه نه شی
په غیبتونو دَ بل چا رانه خرابه نه شی
هم په جهګړه او غلا رانه خرابه نه شی
غواړو کهٔ مونږه نور رڼا مونږه روژے به نیسو
غواړو دَ ربّ کهٔ مونږ رضا مونږه روژے به نیسو
ذکر اذکار به په کښي کړو څکه دا خوند کوی ډیر
دَ خیر هر کار به په کښي کړو څکه دا خوند کوی ډیر
اعلاګفتار به په کښي کړو څکه دا خوند کوی ډیر
کار به کوُو اعلا اعلا مونږه روژے به نیسو
غواړو دَ ربّ کهٔ مونږ رضا مونږه روژے به نیسو
دَ دین یو رکن دے روژه په دي جهان دلته کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ئي ذکر شکلي دے دغي قرآن دلته کښي
احمد ئي ذکر مدام کړے په ښه شان دلته کښي
خوښ دے عمل دَ علماء   مونږه روژے به نيسو
غواړو دَ ربّ کۀ مونږ رضا   مونږه روژے به نيسو

..............................................................

مياشت دَ رمضان شوله شورو .......................( نظم8 )

مياشت دَ رمضان شوله شورو په کښي روژه اُونيسه
رسي مضبوطه دَ خپل دين کلکه پخه اُونيسه
هغه احکام چي درله ربّ په دي جهان درکړي
احکام تمام چي درله ربّ تړول عاليشان درکړي
راشه دي درله دَ رحمت دا دروازه اُونيسه
رسي مضبوطه دَ خپل دين کلکه پخه اُونيسه
کۀ تراويح دي نو پکار ئي پابندي مونږ له ده
ښه دوائي اعلا غذا د هر ژوندی مونږ له ده
لمن دَ نيك سړي په دين کښي هميشه اُونيسه
رسي مضبوطه دَ خپل دين کلکه پخه اُونيسه
هريو بشر له روژي کښي پيشمني پکار دے
ښه طريقي روژو کښي تياري پکار دے
روژه انسانه ! هريوه په اراده اُونيسه
رسي مضبوطه دَ خپل دين کلکه پخه اُونيسه
ثواب دے ډير چي ورسره هم خيراتونه کوے
ثواب دے ډير دَ شپي چي پټ پټ تۀ نفلونه کوے
لار دَ نيکو ده دغه لاره ښه ده ، ښه اُونيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رســي مـضبـوطــه دَ خپـل ديـن كـلكــه پخــه اُونيســه

ميــاشــت دَ رمــضـــان ده شپــه دَ قـدر ده پــه دي كښـي پټـه

ميــاشــت عــاليشــان ده شپــه دَ قـدر ده پـه دي كښـي پټـه

اعتــكــاف اُوكـــړه دَ نبـــي ﷺ دا طـــريـقـــه اُونيســـه

رســي مـضبـوطــه دَ خپـل ديـن كـلكــه پخــه اُونيســه

دَ جهـــنـم نـــه پـنـــاه غــواړه ، دا ســوالــونـــه كــوه

د هــر تـورتـم نــه پـنــاه غـواړو ، ښــه سـوچـونــه كوه

پـــه كښــي احـمـده ! دَ سـكـون هــر وظـيـفــه اُونيســه

رســي مـضبـوطــه دَ خپـل ديـن كـلكــه پخــه اُونيســه

................................................................................

مياشت دَ رمضان......................................... ( نظم9 )

ښــكــلــي ده ښـــائستـــه تـولـــه ميــاشـــت دَ رمــضـــان

تـــل بــــه عبـــادت كـــوى ، دي كښـــي مسـلـــمـــان

ميــاشــت دَ رحــمتــونـو ده ، هــر ځــائـي بـركـتـونــه دى

ښـــهٔ قـيــمتـــي دي ســره دلتـــه كښــي وختــونـــه دى

نُـور تــريـنــه ښـور شـوي دے هــر ځـائـي پــه ښــه شـان

ښــكــلــي ده ښـــائستـــه تـولـــه ميــاشـــت دَ رمــضـــان

شپـــــه دَ قـــدر دي كښـــي ده ، زهٔ دي خبـــروُمـــه تـــري

شپـــــه دَ قـــدر دي كښـــي ده ښـــهٔ دي خبـــروُمـــه تـــري

غـــوره زرو ميـــــاشتـــو نـــــه ده پـــــه دي جهــــان

ښــكــلــي ده ښـــائستـــه تـولـــه ميــاشـــت دَ رمــضـــان

هــر څــوك اعتــكـــاف كـوى دا چــي دا مـعـلـومـه شــي

هــر څـوك چـي اعتـكاف كـوى يـا چي دا مـعـلـومـه شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه دَقدر ټول غواړي هر ځائي صالحان
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

اُونکړي ګناه په کښي، هريو ناروا دلته
ستا نه يم بدخوا دلته، ستا يمه خيرخوا دلته
بچ کړه له شيطان پوره دلته کښي خپل ځان
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

مه کړه شرارت په کښي يو طرف ته دلته کښي
مه کړه شيطانت په کښي يو طرف ته دلته کښي
مه کوه غيبت په کښي، مه غلط بيان
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

اُونيسه روژې په کښي حق دَرمضان دغه
ټولي فرض کړي دي رب په مسلمان دغه
قدر دَرمضان کوي صرف قدردان
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

شل دي تراويح په کښي ښې دغه په خوند کوه
مه کوه سُستي په کښي هر ځائي دا په ژوند کوه
ده ښه طريقه دلته دا دَخوږ جانان ﷺ
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

دي کښي تلاوت کوه ډير اجر وثواب لري
مدام هرساعت کوه ډير اجر وثواب لري
هرچا له دَزړهٔ سکون هر ځائي اطمينان
ښکلي ده ښائسته ټوله مياشت دَرمضان

کولاؤ دروازي په کښي ټولي دَجنت پوره

كولاؤ دروازي شولي په كښي رحمت پوره

كولاؤ دروازي شولي بره دَ آسمان

ښكلي ده ښائسته ټوله مياشت دَ رمضان

بندي دروازي شولي هم دَ جهنم په كښي

ښكلي هر طرف ته شو خراب ماحول سَم په كښي

ستا احمده! هر شعر حق دليل برهان

ښكلي ده ښائسته ټوله مياشت دَ رمضان

..............................................................................

مرحبا رمضان..................................... (نظم 10)

مرحبا رمضان دے بيا

ښهٔ ښكلي دوران دے بيا

ډك به جماتونه شى

عام به رحمتونه شى

بند هر يو شيطان دے بيا

مرحبا رمضان دے بيا

وخت دَ پيشمنى به وى

عامه خير خواهى به وى

تيار مسلمان دے بيا

مرحبا رمضان دے بيا

هر خوا دَ افطار مزي

دى دَ روژه دار مزي

خومره خوږ آذان دے بيا

مرحبا رمضان دے بيا

عام تلاوتونه دي
ښکلي محفلونه دي
دَ محشر سامان دے بیا
مرحبا رمضان دے بیا
ښکلي دَ سجدو منظر
بیا دَ تراوؤ منظر
ختم دَ قرآن دے بیا
مرحبا رمضان دے بیا
زيري دَ بل څه دغه؟
زيري دَ تل ښهٔ دغه
اختر راروان دے بیا
مرحبا رمضان دے بیا
ستا بیان احمده! خوږ
ستا اعلان احمده! خوږ
فضل دَ رحمان دے بیا
مرحبا رمضان دے بیا

.................................................................................

بیا رمضان دے........................................(نظم11)

ښهٔ خوشحاله مسلمان دے بیا رمضان دے
دَ مولا کرم احسان دے بیا رمضان دے
مغفرت ئې تل اوله عشره ده
ګناه ګاره کهٔ انسان دے بیا رمضان دے
په رحمت کښې پټیدل کهٔ دَ رب غواړے

دَ رحمت شور و باران دے بیا رمضان دے

جهنم نه دَ نجات یو ذریعه ده

ډهال له اُوره دَ نیران دے بیا رمضان دے

برکتونه دَ سحري په کښې ښۀ ډیر دی

اعلا وخت ښکلي دوران دے بیا رمضان دے

معطره هر طرف په هر قدم دے

منوّره ټول جهان دے بیا رمضان دے

تلاوت جوړول عادت په کښې پکار دی

گرفتاره بیا شیطان دے بیا رمضان دے

هر یو سوال دَ روژه دار سړی قبلیږی

غواړه ستا کۀ ارمان دے بیا رمضان دے

پریږده هر یوه گناه دروغ غیبت

ښۀ ښکاره واضح اعلان دے بیا رمضان دے

هر طرف ددې عالَم ښکلي احمده!

زمکه ښکلي پاس آسمان دے بیا رمضان دے

................................................................................

راغے رمضان راغے.................................(نظم 12)

دَ خوشحالو سره ښۀ وخت په ټول جهان راغے

راغے رمضان راغے ........راغے رمضان راغے

رمضان دَ صبر دَ هر چا میاشت ده

نورانی ده دَ نُور رڼا میاشت ده

په ټولو میاشتو کښې اعلا میاشت ده

وخت مسلمانانه! دَ سکون او اطمیان راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

میاشت ووره! دا دَ غم خواري دلته کښي

میاشت دَ محشر دَ تیاري دلت کښي

میاشت ښهٔ دَ ګټي دَ خواري دلته کښي

موسم سپرلي په هر یو کور کلی میدان راغے

راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

په کښي کوه تلاوتونه ووره!

نیسه روژه، کوهٔ نفلونه ووره!

کوهٔ دیر دیر ښهٔ عملونه ووره!

په هر شیطان باندي دوران بیا دَ خفګان راغے

راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

ثواب دَ فرضو نن اویا رسی

نفل دَ فرضو دَ دُنیا ته رسی

عمل دَ هر بشر الله ته رسی

موسم ته ګوره ښهٔ دَ ګټي دَ انسان راغے

راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

دَ قدر شپه په کښي ده پټه ووره!

ده نوراني که ښکاري تکه توره

په علاماتو پیژندي شی نوره

دَ کامیابي دَپاره ښهٔ پوره سامان راغے

راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

په هر جمات کښي دی ختمونه ښکلی

دَ تراوو دی محفلونه ښکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده ! ستا دغه شعرونه ښکلی
دَ رحمتونو په هر کور کلی باران راغے
راغے رمضان راغے .........راغے رمضان راغے

..................................................................

عبادت په روژه کښي................................ .(نظم 13)

تکره شته عبادت ته ښکلي ځوانه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
کهٔ دغه کار کوے نو ښهٔ ديندار به درنه جوړ شي
مقام به دي اُوچت شي پرهيزګار به درنه جوړ شي
سړے کهٔ دَ کار نهٔ ئي نو دَ کار به درنه جوړ شي
اثر شته دے هغه دغه له پخوانه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
عبث خبري ښي نه وي انسانه په يو ځائي کښي
عبث خبري ښي نهٔ دي نادانه په يو ځائي کښي
عبث خبري مهٔ کړه مسلمانه په يو ځائي کښي
دا نور هم ناروا دي اے انسانه ! په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
نزدي اُوسه قرآن ته او کوه تلاوتونه
ښهٔ وروره ! پابندي سره کوه فرض مونځونه
کهٔ غواړي په محشر کښي نعمتونه، جنتونه
انسانه ! ګټه ښهٔ ده ښه اسانه ! په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
پناه له جهنم نه په کښي غواړه هر ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پناه له هر تورتم نه په کښي غواړه هر ساعت
پناه له هر يو غم نه په کښي غواړه هر ساعت
ځان بچ کړه اے انسانه ! له تاوانه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
محشر کښي رڼا ګاني به په دغي ملاويږي
انسان په ښهٔ عمل سره به رُوړُو اُوچتيږي
منزل ته دَ جهان هغه به دلته کښي رسيږي
دُعا کوه سوالونه له اللّٰه نه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
مولا ته په سجده شه او توبه کړه له ګناه نه
ځان بچ کړه په دُنيا کښي د دُنيا له هر خطا نه
ځان بچ کړه د دُنيا او دَ آخر له هر نقصانه
بوج کم کړه ښکلي ځوانه له خپل ځانه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
ګفتار که دي دروغ دی له دروغو نه ځان بچ کړه
شيطان کهٔ درپسي دے له شيطانه ايمان بچ کړه
پخپله ځان کړه بچ ورسره هم خاندان بچ کړه
خبره ښه کړه سمه، مه کړه ورانه په روژه کښي
روان په نيغه لار شه مسلمانه په روژه کښي
دا وعظ او نصيحت درته احمدعلی په جار کړي
خبره به دَ ميني محبت درته بار بار کړي
نادان سړي دے هغه چي له دغي نه انکار کړي
عمل دي کړه دَ قدر قدردانه ! په روژه کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان پــه نیـغــه لاړ شــه مسـسـلـمـانــه پــه روژه کښــي

..............................................................................

دَ رمضان تیاری................................( نظم 14 )

ښــکــلــي پــکـــاره پـــه ښـــهٔ شـــان تـیـــاري
وخــــــت راروان دے دَ رمــــــضـــــان تـیــــاري

لــــویـــــه ده لـــویـــــه مـــرتـبــــه دَ رمـــضـــان
ورتــــه کـــوی هـــــر مـسـلـــمـــــان تـیـــاري

راځـــی چـــي کـــلــــه خـــوشـــحـــالیـــږه ورتـــه
نـــهٔ کـــړی مـــؤمـــن ئـــي پـــه خـفـگـــان تـیـــاري

لـــکـــه اختـــر دَ خـــوشـــحـــالـــو ئـــي گـــڼـــه
یـــا چـــي ښـــادي لـــه کـــړی انـســان تـیـــاري

ده لـــه عـــظـــمـــت لـــه بـــرکـتـــه ډکـــه
کـــوی ئـــي خـــلـــق هـــوښـیـــاران تـیـــاري

دَ غـــمـــخـــواري پـــه میـــاشـــت هـــم دا یـــادیـــږی
ده دَ مـــحـشـــر دَ بـــل جـهـــان تـیـــاري

رڼـــا کـــهٔ غـــواړی ځـــوك پـــه قبـــر ځـــان لـــه
رڼـــا ده دا دَ قبـــرســتـــان تـیـــاري

یـــو پـــه اویـــا دی ثـــوابـــونـــه پـــه کښـــي
دَ ښـــهٔ مـــوســـم کـــړه راروان تـیـــاري

دَصـــابـــرانـــو میـــاشـــت دَ صبـــر تـــولـــه
نـــهٔ کـــوی صـــرف نـــادان تـیـــاري

احـــمـــد احســـاس لـــری ، احســـاس ورتـــه شتـــه
دَ قـــدردان کـــړی قـــدردان تـیـــاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياشت دَ مضان ده رحمتونه راوريږي..............( نظم15 )

مياشت دَ رمضان ده رحمتونه راوريږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي
رحمت اول ئي دَ جهان دے، هر يو بشر پوهه دے
مينځ مغفرت دَ مسلمان دے، دا لر او بر پوهه دے
بيا په آخر کښي تړول له اُوره نه خلاصيږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي
په دغي مياشت کښي شيطانان تړول بنديوانه اُوسي
مخلوق سرکشته دَ جهان تړول بنديوانه اُوسي
ځکه هر ځائي په جماتونو رش جوړيږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي
دَ جنتونو دروازي په کښي کولاؤ تړولي وي
دَ رحمتونو دروازي په کښي کولاؤ تړولي وي
دَ انسانانو په کښي زړونه صفاکيږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي
صبر شه صبر له ګناه نه خوږه انسانه! په کښي
منع کړه ځان له هر خطا نه اے مسلمانه! په کښي
تاته که هر قسمه تکليف ورورره! رسيږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي
په کښي احساس دَ بل اے مسلمانه! نن وي
په کښي احساس دَ بل خوږه انسانه! نن وي
په دي عمل سره ژوندون تړول ښائسته کيږي
ښه خوش نصيب انسان ته دغه وختونه ملاويږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خیر خیرات دغه میاشت ، هوښیار انسان مني دا
میاشت دَ نزول دَ قرآن هر مسلمان مني دا
په جماتونو کښي ختمونه وروره ! کیږي
ښه خوش نصیب انسان ته دغه وختونه ملاویږي
دي میاشت راوړی مونږ له دَ خوشبوئي سره انوار دی
اعمال درانه درانه په کښي مدام مونږ له پکار دی
ورسره تله دَ محشر چي ښهٔ درهٔ نیږي
ښه خوش نصیب انسان ته دغه وختونه ملاویږي
پند نصیحت نه ډك ستا دی اشعار احمده
عبث شعرونه نهٔ دی ، ټول دی دَ کار احمده !
ستا په شعرونو عاقلان خلق پوهیږي
ښه خوش نصیب انسان ته دغه وختونه ملاویږي

.................................................................................

راغے بیا رمضان.................................(نظم16)

راغے بیا رمضان دَ محبت سره
ښکلي کړه دا ښکلي عبادت سره
ذکر کوه فکر دَ مولا په کښي
ذکر کوه فکر ښهٔ اعلا په کښي
مهٔ کوه انسانه ! ناروا په کښي
مهٔ ګنده کوه ژبه غیبت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره
خوند مزه کوی په کښي احسان کول
قدر دَ خپل دین دَ خپل ایمان کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دَ نیکۍ هر خوا په جهان کوُل
هر څه ملاوېږي په محنت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره

شل رکعته وروره! تراویح کوه
اے دَ ستر ګو توره! تراویح کوه
اے دَ زړهٔ تکوره! تراویح کوه
دغه ادا نهٔ کړے په غفلت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره

وایه په اخلاص په کښې قرآن دَ رب
دا اعلا کتاب دے حق بیان دَ رب
دا دے په دُنیا کښې حق اعلان دَ رب
زړهٔ نه زنګ صفا کړه تلاوت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره

هم په کښې سوالونه له مولا نه کړه
لرے لرے ځان له هر ګناه نه کړه
لرے په کښې ځان له دي دُنیا نه کړه
مهٔ ګرځه په لاره شرارت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره

اُوباسه توبه له هر ګناه نه اُوس
اُوباسه توبه له هر خطا نه اُوس
لرے شه دُنیا کښې ناروا نه اُوس
مه کوه خبرے دَ نفرت سره
راغے بیا رمضان دَ محبت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان باندي کړه اُور دَ جهنم حرام

ځان باندي کړه کور دَ جهنم حرام

ځان باندي کړه شور دَ جهنم حرام

کېږي دَ مولا په اطاعت سره

راغے بيا رمضان دَ محبت سره

شپه په کښي دَ قدر دَ عزت پټه

شپه دَ انواراتو دَ رحمت پټه

شپه په دغي شپو کښي دَ عظمت پټه

ښکلي هر يو شپه کړه په سنت سره

راغے بيا رمضان دَ محبت سره

رب نه هدايت په کښي مدام غواړه

رب نه سعادت په کښي تمام غواړه

دا الحمده! سوال سحر ماښام غواړه

غواړه دَ الله رضا جنت سره

راغے بيا رمضان دَ محبت سره

................................................................................

دَ رمضان ښهٔ وظيفه ................................ (نظم17)

اَلله اَلله دَ رمضان ښه وظيفه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وايه

په دي دي ډير ډير ثوابونه

داسي ټول وائی کتابونه

انسانه! پټه او ښکاره دا خزانه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دا زړونه صفا کېږي

دَ ګناهونو زنګ لرې کېږي

لویه محشر کښې به ئې اعلا په دې بدله ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

به وظیفه په هر صفت ده

دا وظیفه دَ زړه راحت ده

دَ عالمانو صالحانو طریقه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

وظیفه ډېره دَ کمال ده

دَ مستقبل ده هم دَ حال ده

په وزن به دا په جهان درنه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

مئین په دغې اولیاء دي

مئین په دغې علماء دي

خائسته په دې سره جمات کلي کوڅه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

لکه ګبین خوږه شیرینه

نامه دَ رب اعلا حسینه

په هر محفل کښې ئې جُدا خوند او مزه ده

دَ رب خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

وایه احمده دا تمام

په شوق سره سحر ماښام

هر یو بشر له دَ محشر لویه توبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ربّ خوږه نامه ده ....سحر ماښام دا وایه

..............................................................................

شل رکعتونه تراویح..............................(نظم18)

انسانه! ښکلي په اخلاص تَول عملونه کوه

میاشت دَ رمضان ده تراویح شل رکعتونه کوه

دَ مُسلانو دَ امام ﷺ دا طریقه دلته ده

اعلا محشر لره هر چا لره توښه دلته ده

په وخت ورسره همیشه فرض مونځونه کوه

میاشت دَ رمضان ده تراویح شل رکعتونه کوه

دَ صحابه (رض) هم دَ ژوندون یوه حصه دغه ده

ښکلي دُنیا کښي دَ جهان ئي تذکره دغه ده

هر صحابی وائی چي ښهٔ ښهٔ تَول کارونه کوه

میاشت دَ رمضان ده تراویح شل رکعتونه کوه

دَ تابعینو دا عمل دے چي خوك دغه کوی

دَ تابعینو نه نقل دے چي خوك دغه کوی

نور هم دي علاوه په کښي نفلونه کوه

میاشت دَ رمضان ده تراویح شل رکعتونه کوه

هریو شاګرد دَ تابعینو دا مدام کړے دے

رمضان کښي دُوی دغه عمل په هر مقام کړے دے

سوال دَ الله نه ورسره کوه ، ذکرونه کوه

میاشت دَ رمضان ده تراویح شل رکعتونه کوه

احمد په جار وائی سنت دَ پیغمبر ﷺ دغه دے

دَ شل رکعتو نقل شوے معتبر خبر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مـاسـختـن شـي ورسـره پـه کښې ختـمونـه کوه
میـاشـت دَ رمـضـان ده تـراویح شـل رکعتـونـه کوه

..............................................................................

دَ رمضان په شپه کښې عبادت.....................( نظم19 )

راځــــے چــې اودریـــږو مـولا تــه تـورو شپـو کښـــې
ربّ نـــه ســوالــونــه اُوکـــړو پـــه سـجــدو کښــې
دَ بـــــرکتـــونـــو دغـــــــه شپـــــے دی
دَ رحـــمتـــونـــو دغـــــــه شپـــــے دی
دغــه چـې تیـرے کـړو دَ ربّ پــه یـادیـدو کښـې
ربّ نـــه ســوالــونــه اُوکـــړو پـــه سـجــدو کښــې
هـــریـــو لـــمـــحـــه ئـــې مـعـطـــر ده
ښــــــۀ نـــورانــــی ښــــه مـــنـــور ده
مـــه تیـروه دا ســاعتـونـه پـه فیـصـو کښـې
ربّ نـــه ســوالــونــه اُوکـــړو پـــه سـجــدو کښــې
تـــوښــــه دَ حشـــر دَ مـــحشــــر ده
تـــحـــفـــه ډالــــې دَ هـــربشــــر ده
ورور ه ! ډوبیــــږه دُومــره مـــۀ روپـــو پیسـو کښــې
ربّ نـــه ســوالــونــه اُوکـــړو پـــه سـجــدو کښــې
دا دَ نیــکـــو گټــلـــو وخـــت دے
مـــحـــروم لــــه دغــي نـــه بـدبـخـــت دے
مـخـکښـې لــه ټولـو خلقو شـه ورور ه ! نیـکـو کښـې
ربّ نـــه ســوالــونــه اُوکـــړو پـــه سـجــدو کښــې
ډیــــر پـــــه کښـــې نـــفـــل دی پـــکـــار

کله په پرېږدي فرض هوښيار؟

ډير بې حسابه اجر ايښي رب روژو کښي

رب نه سوالونه اُوکړو په سجدو کښي

سيګريټ نسوارو نه توبه کړه

هيره دَ ژوند هره نشه کړه

دَ سرو کار کوه چي شمير شي په سرو کښي

رب نه سوالونه اُوکړو په سجدو کښي

کوهٔ دَ خير کارونه ټول

جمع سره مونځونه ټول

ښور کړه احمده! دا سبق خپلو پردو کښي

رب نه سوالونه اُوکړو په سجدو کښي

..............................................................................

استغفر الله ...دَ رمضان وظيفه....................(نظم20)

ښهٔ وظيفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

له هريو شر نه شرارت نه دي انکار کوُل

ښکلي اعلا ده وظيفه ټول ښه په جار واوري

دَ خوږ نبی ﷺ ده طريقه ټول ښهٔ بار بار واوري

ښه وظيفه ده دا پټه او په جار کوُل

ښهٔ وظيفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

په خپله خوږ نبی ﷺ په ورځ کښي بار بار به کوُو

کله په پټه به او کله ئي په جار به کوُو

په دي سره دي په شيطان باندي ګوزار کوُل

ښهٔ وظيفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر ماښام په پابندي سره پکار دلته دے
پوره تامم په پابندي سره پکار دلته دے
په دي سره دَ عاجزي دی هم اظهار کوُل
ښهٔ وظیفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

هغه گناه چي په خطا سره وی شوي وروره !
هر ناروا چي په خطا سره وی شوي وروره !
دَ ندامت نه مخکښي مخکښي دی اقرار کوُل
ښهٔ وظیفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

دَ اولیاء دَ علماء داوظیفه خوښه ده
دَ صفائي دَ زړهٔ ئي دغه طریقه خوښه ده
ورته سوچ اُوکړه په خپل نفس باندي دی ولړ کوُل
ښهٔ وظیفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

دَ معصیت نه په اخلاص سره توبه ویستل دی
دَ هر غفلت نه په اخلاص سره توبه ویستل دی
توبه توبه احمده ! دلته کښي بار بار کوُل
ښهٔ وظیفه ده په رمضان کښي استغفار کوُل

..................................................................

میاشت دَ رمضان راغلي ده..........................(نظم 21)

سپوږمي دَ رڼا گانو په ښهٔ شان راغلي ده
په میاشتو کښي بیا میاشت دَ رمضان راغلي ده
دُنیا کښي هر طرف ته یو ماحول دَ حُسن بیا شو
شیطان شولو ذلیله ، شو قیدی ، پوره رُسوا شو
عظیمه یوډالي له پاس آسمان راغلي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه مياشتو کښي يا مياشت دَ رمضان راغلي ده
موسم شو هر طرف ته دَ سپرلي ښۀ مزيدار
ژوندون شو هر طرف ته دَ سکون په هر يو لار
ډالي دَ نعمتونو عاليشان راغلي ده
پـه مياشتو کښي يا مياشت دَ رمضان راغلي ده
هر ځائي شو معطره خوشبوداره دَ جهان
ختمونه تراويح دي هر طرف ته په ښۀ شان
اعلا ښکلي رڼا په هر مکان راغلي ده
پـه مياشتو کښي يا مياشت دَ رمضان راغلي ده
احمد ورته خوشحاله ، ټول جهان ورته خوشحاله
دَ زمکي ټول مخلوق ، بره آسمان ورته خوشحاله
پـه اَمر دَ الله غني سبحان راغلي ده
پـه مياشتو کښي يا مياشت دَ رمضان راغلي ده

..................................................................

دَ رمضان دي ورځي شپي............................(نظم22)

دَ رمضان دي ورځي شپي فرض مونځونه کوه
چي دَ الله وي دَ رضا هغه کارونه کوه
تا ته اَلله دے يو ځل بيا دغه دولت درکړے
تا ته اَلله دے يو ځل بيا دغه نعمت درکړے
هم استغفار کوه ، دَ کار ټول عملونه کوه
دَ رمضان دي ورځي شپي فرض مونځونه کوه
يو يو ساعت ئي لکه لعل يا دَ مرجان قيمتي
هر يو ساعت ئي هر طرف ته په جهان قيمتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر ماښام کړه تلاوت په کښې ختمونه کوه
دَ رمضان دی ورځې شپې فرض مونځونه کوه
دَ تهجدو پابندی کوه چې پاتې نه شی
عمل دا ښکلي دَ نبی ﷺ کوه چې پاتې نه شی
په پټه رب سره دَ شپې رازونه کوه
دَ رمضان دی ورځې شپې فرض مونځونه کوه
دَ تراویح په کښې پکار دے اهتمام تَهولو له
عمل پکار دے په دُنیا دغه مدام تَهولو له
په عاجزي سره سجدې عبادتونه کوه
دَ رمضان دی ورځې شپې فرض مونځونه کوه
په کښې پکار دے اعتکاف ډیر فضیلت لری دا
پټه یو شپه په کښې دَ قدر ډیر عزت لری دا
ورته له اُوس نه تیاري کوه سوچونه کوه
دَ رمضان دی ورځې شپې فرض مونځونه کوه
یو په یو اویا بانديِ بدله ده دَ مونځو تاله
بدله دَ فرضو ښهٔ اعلا ده دنفلونو تاله
ښه شاعري کوه احمده ! ښه وعظونه کوه
دَ رمضان دی ورځې شپې فرض مونځونه کوه

................................................................................

رمضان ښکلي......................................( نظم 23)

ښکلي ده ښکلي په جهان ښکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان ښکلي
دا ده انسانه ! عبادت دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده عالیشانه تلاوت دَ پاره
یاده، راغلي په قرآن شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

نیکان ئي قدر په جهان کوی
قدر دَ شپې خیز صالحان کوی
په شپې دَ قدر دغه شان شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

په اعتکاف د پاك نبی ﷺ شکلي ده
په اعتکاف دَ هر ولی شکلي ده
ده په مونځونو په اذان شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

په تراوُو رڼا رڼا ټوله ده
ښکلا ښکلا اعلا اعلا ټوله ده
ده په سکون او اطمینان شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

کار دَ گناه پرېږده نادانه په کښې
کار ناروا پرېږده انسانه! په کښې
میاشت ده په زمکه په اسمان شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

تحفه والي دا هر بشر دَ پاره
دَ خیر توښه دَ لراوبر دَ پاره
احمده! ذکر دا بیان شکلي
میاشت ده اعلا دَ رمضان شکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میاشت دَ رمضان ښکلې ده......................( نظم24 )

میاشت دَ رمضان ښکلې ده ، په ټول جهان ښکلې ده
ښکلې دا ټوله ښکلې ، په هر بیان ښکلې ده
په کښې ختمونه کیږی
تلاوتونه کیږی
کیږی نفلونه کیږی
عبادتونه کیږی
د ربّ عطا والې ده ، دا په قرآن ښکلې ده
میاشت دَ رمضان ښکلې ده ، په ټول جهان ښکلې ده
ټوله رحمت رحمت ده
ټوله برکت برکت ده
اعلا نسبت نسبت ده
ټوله صفت صفت ښکلې ده
په استغفار دَ انسان په هر مکان ښکلې ده
میاشت دَ رمضان ښکلې ده ، په ټول جهان ښکلې ده
دا دَ محشر ګټه ده
دَ هر بشر ګټه ده
دا سراسر ګټه ده
دَ هر یو در ګټه ده
دا په مونځونو سره په مسلمان ښکلې ده
میاشت دَ رمضان ښکلې ده ، په ټول جهان ښکلې ده
په کښې ده شپه دَ قدر
رښا حصه دَ قدر

اعلا توشه دَ قدر
واخله مزه دَ قدر
په هر نعمت دَ رب په هر زمان ښکلي ده
مياشت دَ رمضان ښکلي ده ، په ټول جهان ښکلي ده
دَ پيشمني خوندونه
اعلا لرى خوندونه
دَ ژوند ژوندى خوندونه
محسوسوى خوندونه
په تراويح اعتکاف په نور عرفان ښکلي ده
مياشت دَ رمضان ښکلي ده ، په ټول جهان ښکلي ده
احمده ! دا توشه ده
ماله زما توشه ده
تاله دا ستا توشه ده
دا دَ هرچا توشه ده
په دعوت ښکلي ، په هر نشان ښکلي ده
مياشت دَ رمضان ښکلي ده ، په ټول جهان ښکلي ده

----------------------------------------------------------------

## تراويح او دَ ختم القرآن په باره کښې نظمونه

----------------------------------------------------------------

رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره.........( نظم 1)

رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
زمونږه په جمات کښې دَ قرآن ختم دَ پاره
مقام دَ هر راحت دے

مقام دَ عبادت دے
نور نورانيت دے
واړه او لوئي دَ کلي ټول ځوانان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
ختم دَ پاك کلام دے
هادي دَ خاص او عام دے
دستور اعلا پيغام دے
راځي ورله په شوق هر قدردان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
هير نۀ کړے دا انسانه!
دا وايه مسلمانه!
نازل دے له اسمانه
ولاړ په مصلي دي حافظان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
سپرلي په لر او بر دے
دَ ختم دا اثر دے
ماحول سم دَ اختر دے
ولاړ مسلمانان دي مؤمنان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
سکون دے اطمينان دے
هر در رڼا روښان دے
دنور شور و باران دے
احمده! معطر دے هر مکان ختم دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمــضـــان دے اودي جــمــع عــــالـــمـــان ختـم دَ پــاره

..............................................................................

رمـضـان دے تـراوُو کښـي حـافظان ختـم کوی......( نظم 2)

رمــضـــان دے تـــراوُو کښـــي حـــافـظــان ختـم کـوی

دَ پـــاك الـــلّــــه پـــه فـضـل مسـلـمـــان ختـم کـوی

رحــمـــت پـــه داسـي خـلـقـو راوريـــږی لـــه اَسـمـانــه

رحــمـــت پـــه داسـي خـلـقـو راوريـــږی لـــه سبحــانــه

خـــوش بـــخـتـــه، خـــوش نـصـيـب قـاريـان ختـم کـوی

دَ پـــاك الـــلّــــه پـــه فـضـل مسـلـمـــان ختـم کـوی

اعــلا دا طـــريـــقـــه دَ صـــالـــحـــانــو مـؤمـنــــانــو

ثـــابـتـــه طـــريــقــــه ده لـــه خُـلـورو امـــامـــانــو

پـــه شـوق او پـــه جـذبـــه هـــر يـو انســان ختـم کـوی

دَ پـــاك الـــلّــــه پـــه فـضـل مسـلـمـــان ختـم کـوی

بيشــمـيـــره ئــي فـــائـدي دی دَ دُنيـــا پـــه هـــر مـقـام

رښـــا دَ هـــدايـــت ده حـــق دسـتـــور دَ حـــق نـــظـــام

دَ ربّ رضــــــا دَ پــــــاره دا جهـــــان ختـــم کــــوی

دَ پـــاك الـــلّــــه پـــه فـضـل مسـلـمـــان ختـم کـوی

کـتـــاب دغـــه مـحشــر کښـي بــه مـلـګـري وی زمـونـږه

هـــرخـواتـــه لــر او بــر کښـي بـه ملـګـري وی زمـونـږه

شـــامـــل دی ورســـره هــم عــــالـــمـــان ختـم کـوی

دَ پـــاك الـــلّــــه پـــه فـضـل مسـلـمـــان ختـم کـوی

دَ دُوی لـــــه بـــرکـتـــه کـــور کـــوڅـــه زمـونـــږ رڼــاده

دَ دُوی لـــــه بـــرکـتـــه مـــحـلـــه زمـونـــږ رڼــاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيکی ګټی احمده ! تهول نيکان ختم کوی
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم کوی

................................................................................

راځے چې اوديږو په جمع تراووته.......( نظم 3)

راځے چې اوديږو په جمع تراووته
تهول ښځۀ په شوق سره دَ قرآن دلته اُوريدو ته
قرآن لوستلو کښې ثواب دے
هم اَوريدلو کښې ثواب دے
دَ خوش نصيبو دے کوز شوے دا سينو ته
راځے چې اوديږو په جمع تراووته
حافظ امام به تلاوت کړي
مونږ به ملګری دَ جنت کړي
قرآن اُوښايه ښه په شوق خپلو بچو ته
راځے چې اوديږو په جمع تراووته
په هر يو لفظ يوه نيکی ده
ورسره ښکلي زندګی ده
دا سبق اُوښايه هم خپلو ته پردو ته
راځے چې اوديږو په جمع تراووته
ورسره نُور په هر مقام شته
احکام احمده ! دَ عوام ته
ښائي دا نيغه لاره دلته کښې ژوندو ته
راځے چې اوديږو په جمع تراووته

................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږه په جمات كښې دَ رحمت شوروباران دے ..(نظم 4)

زمونږه په جمات كښې دَ رحمت شوروباران دے
څكه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
رحمت نورانيت دے
اثر دَ تلاوت دے
عظيم دا عبادت دے
ماحول دا په دُنيا كښې دَ سكون او اطمينان دے
څكه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
حسين دغه منظر دے
ماحول ټول معطر دے
خوشحاله هر بشر دے
خوشحاله لوئي وړوكي هم دَ كلى هريو ځوان دے
څكه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
هر خواته سم اختر دے
سپرلى په لراوبر دے
ده شپه خو سم سحر دے
خفه ورسره هر طرف ته اُوګوره شيطان دے
څكه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
په زړونو كښې جذبه ده
هر څه كښې خوند مزه ده
محشر لره توښه ده
ماحول دَ شيطانانو نه هر خواته په امان دے
څكه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــــــــوستـــــــــلـــــــــــي دے قـــــــــرآن
حـــــــــــــــاقـــــــــظ ددي جهــــــــــــان
خـــــــــائستـــــــــــه شيـــــــــرين بيــــــــان
هـريـو دَ ديـن سپـاهي احـمـده! دوست دَ پاك سبـحان دے
ځـكـــه چـــي رمـضـــان دے ، هـم ختـم دَ قــرآن دے

............................................................................

جـمـات تـه راشـے دَ قرآن ختـم دے ............( نـظـم5)

جـــمـــــــات تـــــــه راشـــــے دَ قــــــرآن ختـــم دے
پـــــــه تـــــراوو كښـــــي دَ رمـــضــــــان ختـــم دے
خيـــر او بـــركـــت لـــره جـــمـــــات تـــــه راشـــے
نـــورانيـــت لـــره جـــمــــــات تـــــه راشـــــے
دَ حـــــق كتـــــــاب دَ حــــق بيـــــــان ختـــم دے
پـــــــه كښــــي دُعـــــا اوكـــــړهٔ دُعــــا قبـــلـيـــــږي
دُعـــــا پــــــه ســـچــــــه دَ هـــر چـــا قبـــلـيــــږي
دَ خـــــوږ كــــلام دَ پــــــاك سبــــحــــــان ختـــم دے
پـــټ پـــــه انـــوارو كښـــي مـــحـــفـــل دغـــــه دے
دَ كــــــاميــــــابــــي دَ ژونــــد مــــنــــزل دغـــــــه دے
خـــــامـــخـــــا راشـــــے عـــــاليشـــــان ختـــم دے
ورتـــــــه راځـــــي هـــم فـــــريښتـــــے لــــــه بـــره
مـــحـــــفــــل دُنيــــا كښـــي دے حسيـــن بهتـــــره
دَ رب كـــــــــرم دَ رب احســــــــــان ختـــــــم دے
پــــــه دي بـــــه اجـــــر مــــلاويــــږي مـــونـــږ تـــــه
مشــــكــــل بــــه هـــريـــو اســـانيـــږي مـــونـــږ تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ لوئي ، وړوکی هم دَ ځوان ختم دے
ورته راځی به عالمان خلق
بیان دَ پاره صالحان خلق
راشے کوُم دلته درته اعلان ختم دے
خوښ دَ احمد علی محفل دغه دے
غوره محفل تل له ازل دغه دے
توښه محشر له دَ جهان ختم دے

..............................................................

## دریمه حصه (دَ اعتکاف په باره کښي)

..............................نظمونه..............................

اعتکاف سره مینه څوك ساتی؟ ........................... (1)

اعتکاف ته ښهٔ کینی
ښهٔ چي نهٔ وی نهٔ کینی
کیږی په توفیق دَ ربّ
مشران زاړهٔ کینی
اُوګوره ئي خوند مزه
کله چي واړه کینی
نارینه جمات ته ځی
ښځي په کاله کینی
ناست نهٔ وی یوځائي دلته
خلق بیل خوارهٔ کینی
ولاړ وی مونځونو ته
ستړی په مانځه کینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر خوشبوی دا خلق
شر نه ټول راڼدۀ کیني
دا ثواب، رضا دَ ربّ
غواړی، نور په څۀ کیني؟
اے احمده! خوند کوی
تۀ سره ورارۀ کیني

..................................................................

راشه جمات ته اعتکاف له.................................. (2)

راشه جمات، اعتکاف ته کیناستو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښي پټه دغي شپو له راشه
داسي شودلے په دُنیا مونږ ته نبی ﷺ سبق دے
داسي شودلے مونږ ته دلته هر ولی سبق دے
راشه رکوع له راشه، دلته سجدو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښي پټه دغي شپو له راشه
دوه دَ حجونو دَ عمرو په کښي ثواب پټ دے
نه دَ غریب نه دا ثواب نه له نواب پټ دے
دغي حجونو له جمات ته او عمرو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښي پټه دغي شپو له راشه
هر یو ګناه ورسره دلته دَ جهان رژیږی
هر یو ګناه ورسره دلته دَ انسان رژیږی
دَ وړو لویو ګناهونو معاف کیدو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښي پټه دغي شپو له راشه
دَ پاك نبی ﷺ ده طریقه په نُور سنت یادیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلا اعلا دا طريقه دَ عبادت ياديږي
په پټه پټه ربّ ته دلته ژړېدو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښې پټه دغې شپو له راشه
رضا په دي کښې دَ الله په دي دُنيا لټوه
ځان له نجات په کښې احمده! په هرخوا لټوه
دَ خپل حالاتو دَ ژوندون ټول سميدو له راشه
دَ قدر شپه ده په کښې پټه دغې شپو له راشه

..............................................................................

اعتکاف سنت دَ حضرت محمد رسول الله ﷺ.........(3)

وخت قيمتی دَ رمضان دے اعتکاف ته کينه
سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کينه
دا خوږ سنت دَ محمد رسول الله ﷺ دلته دے
ثواب ئې ډير ډير اعلا اعلا په دي دُنيا دلته دے
دُومره ګران نۀ دے ښۀ اسان دے اعتکاف ته کينه
سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کينه
په دي معاف کيږي دَ انسان ټول ګناهونه دلته
واړه او لوئي دَ مسلمان ټول ګناهونه دلته
دا مې يقين دا مې ايمان دے اعتکاف ته کينه
سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کينه
دوه دَ عمرو، دوه دَ حجونو ثوابونه لري
دومره عزت، دومره رُتبه دغه وختونه لري
دَ کاميابي پوره سامان دے اعتکاف ته کينه
سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهر څه نیشته په جمات کښي تلاوت به کوے

ښه په اخلاص سره په شوق هر عبادت به کوے

ژوندون تیریږي، ژوند روان دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

بهر به څهٔ وی خو دُنیا ده دَ دُنیا قیصې دی

بهر به څه وی بس عبث هسې هر خوا قیصې دی

راشه جمات ته ښهٔ دوران دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

خلاص به په دي سره له شر نه شرارت نه تهٔ شے

خلاص به په دي سره هر خوا له شیطانت نه تهٔ شے

ځائي دَ سکون او اطمینان دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

خالق راضی کړه په سجدو عبادتونو سره

خالق راضی کړه په نفلونو اوذکرونو سره

مقام دَ امن او امان دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

تا ته مُلا به په منبر دا مسئله کړے وی

تا ته هرچا به برابر دا مسئله کړے وی

کور دَ هر زړهٔ په دي ودان دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

حق دَ احمد علی خبره ده لږ فکر اُوکړه

حق دَ هر یو ولی خبره ده لږ فکر اُوکړه

وخت قیمتی ددي جهان دے اعتکاف ته کینه

سنت دَ خوږ نبي سلطان ﷺ دے اعتکاف ته کینه

..............................................................................

خوند دَ اعتکاف ........................................ (4)

خوند دَ اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

پټ پټ یو الله ته په سجدو کښي دے

رب په دي عمل ځان نه خوشحاله کړه

رب په دغي تل ځان نه خوشحاله کړه

ماحول ورله هر خوا جوړېدو کښي دے

خوند دَ اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

کینه اعتکاف ته دَ مولا کور کښي

کینه اعتکاف ته شۀ اعلا کور کښي

ژوند هسي هم رُو رُو تېرېدو کښي دے

خوند دَ اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

پاك رسول الله په خپله ناست مدام

نیشته په سنت کښي دي هیڅ کلام

په دُنیا موجود ټولو حصو کښي دے

خوند دَ اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

هریو صحابی په دي عمل مئین

هریو متقی په دي عمل مئین

خوند په ګناهونو ژړېدو کښي دے

خوند دَ اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

دوه حجه ، عمري بدله ثواب لري

څوك هم چي ایمان په حق کتاب لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر د حدیثو ګلدستو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

لس ورځي مسنون دے اعتکاف پوره
ټول د ژوند سکون دے اعتکاف پوره

جمات نه بهر ژوند په خطرو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

کینه اعتکاف ته خامخا ضرور
ژوندي کړه سنت د مصطفیٰ ﷺ ضرور

ژوند درنه رو رو په کمیدو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

پټه شپه د قدر به نصیب شي ستا
هر لمحه د قدر به نصیب شي ستا

خوند د داسي شپي په لټیدو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

څوك چي اعتکاف ته ناست احمده! وي
بچ له معصیت نه له حسده وي

اعلا په دي کار خپلو پردو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

خوند داسي ماحول کښي په نیکو کښي دے
خوند د اعتکاف په ورځو شپو کښي دے

..............................................................................

*************************

*************************

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس ورځي اعتكاف دَ رمضان ............................ (5)

جـمـات تـه اعتـكـاف لـه ، عبـادت لـره راځـه
ادا چـي كـړے سـنـت ، نېـكـلـي سـنـت لـره راځـه
لـس ورځـو كښـي مسـنـون دے اعتـكـاف دَ رمـضـان
اخـر كښـي دَ رمـضـان مـدام راځـى پـه دي جهـان
ثـانـى نـهٔ لـرى داسـي دي دولـت لـره راځـه
دوه حـجـه ، دوه عـمـري لـرى بـدلـه اجـر وثـواب
حـكـم دَ شـريـعـت دغـه ثـابـت دے لـه كتـاب
فـكـر لـه دَ مـحشـر دَ اخـرت لـره راځـه
راضـى كـړه خپـل خـالـق پـروردیـگـار پـه دي عمـل
مـعـاف كيـږي ورسـره هـريـو گـنـاه دَ هـر مـحـل
سبـب دَ رحـمـتـونـو دے رحـمـت لـره راځـه
شپـه قـدر پـه لټـون پـه كښي معلـومـه پـه جهان كړه
شـائستـه شـپـهٔ نـوراني ورسـره هـرخـوا تـه ايمـان كړه
دَ زړهٔ سـكـون كـه غـواړے ، دي دولـت لـره راځـه
سـوال اُوكـړه پـه كښـي ډيـر دَ مـغـفـرت او دَ جـنـت
پـنـاه پـه كښـي اُوغـواړه لـه دوزخ نـه هـر سـاعـت
احـمـده ! حـق بيـان لـه ، حـقيـقـت لـره راځـه

..............................................................................

اعتكاف دَ رمضان المبارك................................ (6)

سـنـت دَ مـحـمـد رسـول اللـّـه ﷺ دے پـه جهـان
اعتـكـاف دَ رمـضـان ، اعتـكـاف دَ رمـضـان
حـكـم دَ شـريـعـت دے

باعث د مغفرت دے
ګناه نه حفاظت دے
د تن نورانیت دے
ډیر زیات شی قیمتی ورسره وخت د مسلمان
سنت د محمد رسول اللّٰه ﷺ دے په جهان

ثواب د دوؤ حجونو
په دغې ملاوېږی
سکون مدام د زړونو
په دغې ملاوېږی
د دوو عمرو ثواب ورسره شته هم دغه شان
سنت د محمد رسول اللّٰه ﷺ دے په جهان

د قدر شپه ده پټه
په دي کښې زما وروره!
راشه جماعت ته راشه
راووځه له خپل کوره
د قدر شپه کښې هر خواته د رحم وی باران
سنت د محمد رسول اللّٰه ﷺ دے په جهان

احمده! ورته کېنه
کۀ ځۀ عذر دي نۀ وی
عمل چې کوی دا خوك
انجام د هغه ښۀ وی
ډیر ډیر په کښې وئیل هر خوا پکار دی د قرآن
سنت د محمد رسول اللّٰه ﷺ دے په جهان

## الوداع رمضان المبارك

وخت ډير دَ قدر دَ عظمت له مسلمان لاړو
لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو
په پابندي سره به
خلقو مونځونه کوُل
خلقو په شوق سره به
تلاوتونه کوُل
وخت دَ برکت لاړو ، اعلا دوران لاړو
لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو
دَ محبت خبري
به هر بشر کوُلے
دَ هدايت خبرے
غريب افسر کوُلے
وخت دَ ډيري ګټي له هر انسان لاړو
لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو
ټول شيطانان آزاد شو
په هر طرف دلته کښي
وران په خپل مُراد شو
په هر طرف دلته کښي
هغه سپرلي لاړو ، وخت قدردان لاړو
لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو
هغه رحمت چي عام وو
هغه رحمت نه وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه برکت چې عام وو

هغه برکت نه وینم

یو ځائې سکون نیشته، لاړ اطمینان لاړو

لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو

رښه ! ژوندون ډیر راکړے

چې بیا دا وخت ووینم

دَ برکتونو ماحول

نصیب خپل بخت ووینم

محسوسوي احمد ، وخت دَ امان لاړو

لاړو رمضان لاړو ، لاړو رمضان لاړو

.............................................................................

دَ روژې نه پس ................................اختر دَ چا دَ پاره

چا چې نیولې ده دَرب رضا دَ پاره

په حقیقت کښې دے اختر دَ هغه چا دَ پاره

چا په اخلاص سره چې هریو عبادت کړے وو

چا دَ مولیٰ چې په هر ځائې کښې اطاعت کړے وو

دي هغې ځوان لره اختر ، هغې بابا دَ پاره

چا چې نیولې ده دَرب رضا دَ پاره

چا چې نفلونه به سحر کوُل ، ماښام کوُل

فرض مونځونه به ئې ټول په اهتمام کوُل

هریو عمل ئې کړوُ صرف دَ مولیٰ دَ پاره

چا چې نیولې ده دَرب رضا دَ پاره

چا چې په مینه محبت عبادتونه کوُل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسين اعلائي دَ نيكي دلته كارونه كوُل
اختر اختر دے بس ددي هر بالا دَ پاره
چا چي نيولي ده دَ رب رضا دَ پاره

چا چي سحر ماښام عمل دَ استغفار كوُلو
دغه عمل ئي په اخلاص سره بار بار كوُلو
اختر دے داسي په دُنيا كښي هر پارسا دَ پاره
چا چي نيولي ده دَ رب رضا دَ پاره

دَ تهجد او اوّابين مونځونه چا چي كړي
په ښهٔ انداز ښه بهترين مونځونه چا چي كړي
اختر خو دے صرف دداسي هر دانا دَ پاره
چا چي نيولي ده دَ رب رضا دَ پاره

دَ تراوو چا چي په جمع اهتمام به كوُو
كار دَ نيكي ئي پابندي سره مدام كوُو
ده خوشحالي هم دا اخر له دَ دُنيا دَ پاره
چا چي نيولي ده دَ رب رضا دَ پاره

چا له دروغو نه چي دلته كښي وو ځان ساتلے
چا چي له شرك نه له غيبت نه خپل ايمان ساتلے
احمده! ورځ دَ خوشحالي ده علماء دَ پاره
چا چي نيولي ده دَ رب رضا دَ پاره

................................................................

سر سايه (فطرانه) وركوه

كهٔ تهٔ مالدار ئي نو غريب له فطرانه وركوه
درله دركړے دے رب مال دَ رب حصه وركوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسره دلته چې پيسې وي دَ نصاب برابر
چې سرسايه ورکوي هغه دے کامياب برابر
په پابندي سره مالداره سرسايه ورکوه
کۀ تۀ مالدارئي نو غريب له فطرانه ورکوه

کۀ وي په تا باندې روژې دَ رمضان فرض
کۀ وي په تا باندې روژې ددې جهان فرض
دَ ربّ له مال نه لازمي دغه حصه ورکوه
کۀ تۀ مالدارئي نو غريب له فطرانه ورکوه

حکم دَ ربّ دے په مالدار باندې واجب دغه ده
په هر بالغ سړي هوښيار باندې واجب دغه ده
صدقه مالداره نارينه اے زنانه ! ورکوه
کۀ تۀ مالدارئي نو غريب له فطرانه ورکوه

عاقل مالدار باندې واجب ده چې مالدار کله وي
دا خُو په کال کښې يو پېره وي بار بار کله وي
کله دا پټه صدقه ، کله ښکاره ورکوه
کۀ تۀ مالدارئي نو غريب له فطرانه ورکوه

دا دَ اسلام احمده ! حکم دے هر چا ته دلته
دا دَ اسلام احمده ! حکم دے هم تا ته دلته
کۀ وس دې رسي نو صدقه درنه او ښه ورکوه
کۀ تۀ مالدارئي نو غريب له فطرانه ورکوه

---

## دَ رمضان نه پس دَ شوال روژے

وروستو رمضان پسے راغلي دي هر کال روژے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیــر فــضیـلــت لـری نـفـلــی شپــږ دَ شـوّال روژے

یــکــم نـــه پــس دغــه نیـولــے هــر بشــر دلتــه شــی

پیــدا کــوی هــریــو بشــر کښــي لــوئـي کـمــال روژے

تــنــګــدستــی دي ســره ختــمیـــږی دَ انســان دَ کــور

جــوړوی هــر صـــورت بشـــر پــوره خــوشــحــال روژے

شیــطــان پــه دي لــه بشــر نــه خـفــه کیــږی ځـکـه

خـــوښـــي دی ډیــــري دَ مــــولا دَ ذوالـــجــلال روژے

ذکــرئــي شتــه دے پــه حدیـث کښــي احـادیـث اُوګوره

هــغـــهٔ دي نـــهٔ نیــوی چــي چــاتـــه وی مــحــال روژے

هـــر زهـــریـلـــــه اثــر بـدن نـــه ختــمـوی ښــه پــوره

ختــمــوی زړونــو نـــه هـــر غــم هــریـــو مَـلال روژے

تــرتیــب ســره یــا بــي تــرتیبـــه دا نیــولــي شــی تـول

دی پــه مــحشــر کښــي روژه دار لــه مضبـوط ډهــال روژے

دَ پــاك الـلّـــه دَرضــا دلتـــه کښــي سبـب پــه جهــان

بـــدن دَ پـــاره دَ هــــرچـــا حُســـن وجـــمــــال روژے

بهتــر عــلاج تــریـنـــه احـمـده ! پـــه دُنیـا نیشتـــه دے

هـــریـــو خـــواهـــش ختــمـوی هــریـو اشتـغـال روژے

..............................................................................

وما توفیقی الا باللّه العلی العظیم ....تمت بحمد

اللّه تعالیٰ وعونه ..وافوض امری الیٰ اللّه ....وصلی

اللّه تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واٰله واصحابه

اجمعین ومن تبعهم باحسان الیٰ یوم الدین .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**